

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادئ اوونیزه

هفته نامه آبادی

چهارشنبه، د ربیع الاول ۲۴مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال | مسلسل نمبر : ۱۱۴ | گڼـه : ۲۴


## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د بندیانو په چارو کې د امریکا د ولسمشر له ځانګړي استازي سره وکتل



۲ صفحه

## د طوطي میدان د ګازي ساحو د خېړنې او استخراج پروژې چارې پیل شوې



۳مه صفحه

## د سرو خونو جوړولو پانګوالو ته پنځه کلن مالیاتي معافیت ورکول کیږي



۳مه صفحه



## سرلیکنه

د ترسره شویو سروې ګانو له مخې د افغانستان د کانونو ارزښت مېلیاردونو ډالرو ته رسېږي؛ خو په افغانستان کې اوږدمهاله ناخوالو د دې کانونو د استخراج مخه نیولې وه. افغانستان د بېلا بېلو کاني زیرمو ترڅنګ د ګازو پراخې زیرمې لري چې لا تر اوسه نه دي سپړل شوي او هماغسې تر خاورې لاندې پرتې دي. د افغانستان تېرو حکومتونو د دې پرځای چې ترځمکه لاندې له خپلې شتمنۍ څخه ګټه پورته کړي، د افغانستان د آبادولو او پرمختګ له پاره یې د نورو لمن نیولې او هغوی ته یې لاسونه اوږده کړي وو. که څېړې د افغانستان طبیعي زیرمې د حکومتونو تر چتر لاندې په تخنیکي او قانوني ډول راسپړل شوې وای، د نورو د ګټو خوندي کولو پرځای خپلې ملي ګټې پالل شوې وای؛ نو اوس به افغانستان نه له اقتصادي ستونزو کړېده او نه به یې ملت له بدي ورځې سره مخ و. اما اسلامي امارت د تېرو حکومتونو برعکس په افغانستان کې یو قوي او مرکزي نظام رامنځته کړ، د څلورو لسیزو ناخوالو ته یې پای ورکړ، امنیت یې ټینګ او د هېواد د مخ پر ځوړ اقتصاد پیاوړتیا او د هېواد د بیارغونې له پاره یې د خپلو کورنیو عوایدو پرمټ خپلې هلې ځلې پیل کړې. د افغانستان تر ځمکه لاندې شتمنې چې طبیعي زیرمې او کانونه دي، په قانوني او مسلکي ډول یې د استخراج چارې پیل شوې دي. په دې برخه کې یو بل ستر ګام د ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۳مه نېټه د طوطي میدان د ګازي ساحو د خېړنې او استخراج پروژې عملي چارو پیل و. په هغو مراسمو کې چې له همدې امله د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف کې جوړ شوي و، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په دې سره به زیات شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر، په کور دننه به د ګازو اړتیا تر ډېره حده پوره، په وارداتي ګازو او بریښنا به د هېواد تکیه راکمه او په تدریجي ډول به بهر ته د ګازو د صادرولو زمینه مساعده شي. په دې سره به د سوداګرۍ انډول تر یوې کچې برابر او په لویه کې به د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول ولوبوي. افغانستان د سوداګرۍ غیر متوازن بیلانس لري، د صادراتو په پرتله یې واردات زیات دي او یو عمده دلیل یې دا دی چې په کور د ننه د تولید کچه کمه ده. د یادو زېرمو د استخراج په پیل سره به په مجموعي ډول په هېواد کې د ننه د ګازو د استخراج کچه زیاته شي چې تر ډېره به د هېوادوالو اړتیاوې په مناسب او ارزانه قیمت سره پوره کړي. د یادو زېرمو د اکتشاف او استخراج په پیل سره به بهر ته د ګازو د وارداتو له امله د هېواد د اسعارو د وتلو مخنیوی وشي. بله دا چې د طوطي میدان د ګازي ساحو د خېړنې پیل او نورو مختلفو سکتورونو کې پانګونې سره به ډېرو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته دا ثابته شي چې افغانستان اوسمهال د پانګونې له پاره خوندي او امن ځای دی. په دې سره به افغانستان وکولای شي چې د کانونو ترڅنګ په بېلا بېلو برخو کې د کورنۍ پانګې ترڅنګ بهرنۍ پانګه هم را جلب کړي. د ګازو په استخراج او پانګې په جذبولو سره به افغانستان پر دې وتوانیږي چې خپل ملي اقتصادي پر خپلو پښو ودروي.



dpmea.gov.af/ps

# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د بنديانو په چارو کې د امريکا د ولسمشر له ځانګړي استازي سره وکتل



د رياســـت الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان كال د سنبلې مياشتې په ۲۲مه د بنديانو پـــه چارو كې د امريكا د ولســـمشر ډونلـــډ ټرمپ ځانګړي استازي ادم بولر په مشرۍ پلاوي سره چې د افغان سولې لپاره د امريـــكا متحده اياالتو پخواني ځانګړي اســـتازي ډاكټر زلمي خليلزاد يې هم غړيتوب درلود وكتل.

په دې كتنه كې دواړو لورو د افغانستان، سيمې او نړۍ پر روان وضعيت د بحث ترڅنګ د افغانســـتان او امريكا ترمنځ پر دوه اړخيزو ســـياسي او اقتصادي اړيكو هم د نظر تبادله وكړه.

په سر كې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغنـــي برادر اخوند د هـــواد اقتصادي پرمختګ ته په اشـــارې سره وويل چې د اسلامي امـــارت په راتګ سره اقتصادي وضعيت چې له جـــدي ګواښ سره مخ و، اوس بېرته مخ په ښـــه كېدو دى، اداري فساد نشته، د نشه يي توكو د كر او قاچاق بشـــپړ مخنيوى شوى، د بېكارۍ كچه راټيټه شوې او د بهرنيو اسعارو پر وړاندې افغانۍ ثابته پاتې شوې ده.

د رياســـت الوزراء اقتصادي مرستيال زياته كړه، په بانكي سكتور كې پرمختګ رامنځته شوى، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوايدو كچه لوړه شـــوې، په كورنيو توليداتو كې زياتوالى راغلى، د لويو پروژو چارې پيل شوې، صنعت، سوداګرۍ او ترانزيټ هم پرمختګ كړى دى.

حاجي ملا صاحب پر افغانســـتان د امريـــكا او نړيوالې ټولنې له لوري لګول شـــويو بنديزونو ته په اشـــارې سره وويل چې افغانســـتان په ځينو برخـــو كې اوس هم لكه څنګه چې اړتيا وه هماغســـې پرمختـــګ نه دى كړى. لامـــل يـــې د امريـــكا او نړيوالـــې ټولنې له لـــورې په افغانستان اقتصادي بنديزونه دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همدا راز وويل، د اقتصاد محوره متوازن بهرني سياســـت په غـــوره كولو سره پر دې توانيدلي چـــې له ځينو هېوادونو سره ښـــې ســـياسي او اقتصادي اړيكې ولري.

د رياست الوزراء اقتصادي مرســـتيال په افغانستان كې د پانګونې د جذب له پاره د اســـانه قوانينو جوړولو يادونه هم وكړه او ويې ويل، د پانګونې جذب لپاره اسانه قوانين جوړ شوي او د شرعي اصولو په رڼا كې د هر چا حق او غوښتنې ته رسېدنه كيږي.

مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته كړه د برېښـــنا، كانونـــو، زراعـــت، ترانســـپورت، زېربنـــاوو، مخابراتو، ټيكنالوژۍ او روغتيا ترڅنګ په ګنو نورو ســـكتورونو كې پانګونه د افغانســـتان اړتيا ده او اسلامي امارت په دې برخـــه كـــې د كورنيو پانګوالو ترڅنـــګ بهرنيو پانګوالو ته هـــم د پانګونې زمينه برابره كړې ده. د حاجي ملا صاحب په خبره افغانســـتان پراخې طبيعي زېرمې لري او په دې برخه كې د پانګونې له پاره ښه زمينه برابره شوې ده. د باميانـــو د حاجيګک اوســـپنې كان، د كټواز او هلمند نفتي حوزې، د هـــرات نفتي حوزه او نادره كانونه دپانګونې له پاره ښه فرصتونه دي.

د رياســـت الـــوزراء اقتصادي مرســـتيال وويـــل چې په افغانســـتان كې د سړكونو، اوســـپنې پټلۍ او ترانسپورتي ترمينلونو جوړولو، د ساختماني، كرنيزو محصولاتو، درملو، خوراكي توكو، لاسي صنايعو، سيمه ييز اتصال او بانكوالۍ په برخه كې هم پانګونې ته زمينه برابره شوې ده.

حاجـــي ملا صاحب زياته كـــړه چې د پانګوالـــو له پاره د اسانتياوو رامنځته كولو په موخه بين الوزارتي كميټه جوړه شـــوې او دنده يې داده چې كورنيو او بهرنيو پانګوالو ته په بشپړ ډول اســـانتياوې رامنځته كړي. دغه راز د اقتصادي پرمختګ له پاره مشـــورتي اقتصادي بـــورډ جوړېږي او د افغانستان پنځه كلنې ملي پراختيايي ستراتيژۍ پر جوړولو هم عملا كار روان دى.

https://x.com/EDPM_AEG/status/1968247238410502626

د رياســـت الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له امريكايي پلاوي وغوښتل چې امريكا دې په افغانســـتان كې د تقابل پر ځاى تعامـــل ته مخه كړي، د افغانستان په بيارغونه كې دې خپل رول ولوبوي او مختلفو ســـكتورونو كې دې د پانګونې له شته فرصتونو ګټه پورته كړي.

ورپسې د بنديانو په چارو كې د امريكا د ولسمشر ځانګړي اســـتازي ادم بولر خبرې وكړې او ويې ويل چې امريكا او افغانستان د دوحې تړون په ښه ډول عملي كړى او له دې تـــړون څخه هيڅ لوري سرغړونه نـــه ده كړې. نوموړي په افغانســـتان كې په اقتصادي برخه كې شـــوي اقتصادي پرمختګونه وســـتايل او د امريكا او افغانستان ترمنځ يې د اړيكو پر لا پراختيا او تعامل ټينګار وكړ.

ادم بولر په افغانستان او امريكا كې د بندي اتباعو موضوع ته په اشارې سره وويل چې دواړه هېوادونه به خپل زندانيان تبادله كړي. امريكايي پلاوي په افغانستان كې د اقتصاد په برخه كې خپله همـــكارۍ په ډاګه كړه او ويې ويل چې دوى چمتو دي په افغانستان كې پانګونه وكړي.


ABAADI ONLINE WEEKLY
ابادي
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

# د طوطي میدان د ګازي ساحو د خېړنې او استخراج پروژې چارې پیل شوې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۳مه نېټه د طوطي میدان د ګازي ساحو د خېړنې او استخراج پروژې د عملي چارو په پرانیست غونډه کې ګډون وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه ګازي ساحو د عملي چارو پیل د پانګونې په برخه کې مهم ګام وباله او ویې ویل، په داسې لویو او مهمو پروژو کې پانګونه ټولو هېوادونو او پانګوالو ته واضح پیغام ورکوي چې په افغانستان کې امنیت تأمین او د هر ډول پانګونو لپاره ښه زمینه مساعده ده. د هغه په خبره، د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست له مخې د ممکنه اسانتیاوو په برابرولو سره ټولو بالقوه پانګوالو ته ښه راغلاست وایي او ملاتړ یې کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په دې سره به زیات شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر، په کور دننه به د ګازو اړتیا تر ډېره حده پوره، په وارداتي ګازو او برېښنا به د هېواد تکیه راکمه او په تدریجي توګه به بهر ته د ګازو د صادرولو زمینه مساعده شي. د محترم ملا صاحب په خبره، په دې سره به د سوداګرۍ انډول تر یوې کچې برابر او په لویه کې به د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول ولوبوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یو ځل بیا پر ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو او سوداګرو غږ وکړ، چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او د دې هېواد له نسبي مزیتونو ګټه واخلي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د طوطي میدان ګازي ساحو د خېړنې او استخراج له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې خپل کارونه د ټولو معیارونو او اصولو په پام کې نیولو سره په ښه ډول ترسره کړي.

# د سړو خونو جوړولو پانګوالو ته پنځه کلن مالیاتي معافیت ورکول کېږي



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون غونډه کې د غزني ولایت په مرکز کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت پر ځمکه د سړې خونې او کارخانې د جوړولو طرحه تایید شوه.

افغانستان یو کرنیز هېواد دی، خو د سړو خونو د نشتوالي او ګاونډیو هېوادونو له لوري پر کرنیزو محصولاتو موسمي تعرفو لوړولو او سوداګریزو لارو بندولو یې ملي اقتصاد، کرنیز محصولات او بزګران له مالي زیانونو سره مخ کړي دي. د یادو ستونزو د مخنیوي په موخه هر هغه شرکت یا انفرادي متشبث چې د سړو خونو جوړولو په برخه کې پانګونه کوي، پنځه کلن مالیاتي معافیت ورکول کېږي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کونړ له زلزله ځپلو سره دغمشریکۍ په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د سنبلې په ۲۱مه د کونړ له زلزله ځپلو او د زلزله ځپلو سیمو د لیدنې په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

په دې سفر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره د ننګرهار او کونړ والیانو، د سرې میاشتې عمومي رییس شیخ شهاب الدین دلاور، د پیښو پر وړاندې د مبارزې رییس ملا نورالدین ترابي، د سوداګرۍ خونې رئیس او یو شمېر مسوولینو ملتیا کوله.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له زلزله ځپلو سره د لیدنې پرمهال په دې ستر ناورین خپله خواشیني وښوده، په زلزله کې د شهیدانو پاک روح ته یې دعا او ټپیانو ته یې د عاجلې روغتیا هیله وکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اسلامي امارت په استازیتوب په دې ستر غم کې ځان شریک وباله او ویې ویل، په تیرو څلورو کلونو کې دا دریم ځل دی چې د سختو زلزلو له امله هېوادوالو ته درانه مالي او ځاني زیانونه اوړي. حاجي ملا صاحب زیاته کړه، د امکاناتو د محدودیت باوجود اسلامي امارت پر دې توانیدلی چې پر وخت د زیانمنو لاسنیوی وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کونړ زلزله ځپلو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت د دوی ترڅنګ ولاړ دی.

د حاجي ملا صاحب په وینا، دوی ټولو امارتي مسوولینو ته هدایت کړی چې مرستې را ټولې او په شفاف ډول یې پر مستحق زیانمنو وویشي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هیواد په سوداګرو، پانګوالو او خیریه بنستونو غږ وکړ چې د کونړ له زلزله ځپلو سره خپلې مرستې جاري وساتي.

دغه راز حاجي ملا صاحب د زلزلې له امله د زیانمنو سیمو د بیارغونې له پاره ترلاس لاندې اړینو پلانونو ته په اشارې سره وویل، هڅه کوي چې په زلزله کې د ورانو شویو کورونو د بیرته رغولو له پاره امکانات برابر او په راتلونکې کې د طبیعي پیښو د زیان کچې را کمیدو له پاره هر اړخیز تدابیر ونیسي.

اقتصادي مرستیال له ټولو هغو هیوادونو، هیوادوالو، ملي سوداګرو او خیریه بنستونو مننه وکړه چې د کونړ له زلزله ځپلو سره یې مرستې کړې، پر نړیواله ټولنه غږ وکړ چې په دې سختو شرایطو کې دې پر افغانستان لګېدلي بندیزونه پای ته ورسوي، څو زیانمنو افغانانو ته د مرستو رسولو او اقتصادي ستونزو ته د رسیدنې بهیر پر وړاندې شته خنډونه له منځه ولاړ شي.

په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د سوداګرۍ خونې د مشرتابه پلاوي له لورې د کونړ له زلزله ځپلو سره ۲۰ میلیونه افغانۍ، د سوداګرۍ خونې او یما پترولیم شرکت رئیس سید کریم هاشمي او د اختریان شرکت رئیس حاجي کمال الدین له خوا پنځوس پنځوس زره ډالر مرسته وشوه.

## اخبار اقتصادی هفته

### د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو ارزښت لوړ شوی



د بهرنیو اسعارو په ځانګړي ډول د ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت د پام وړ لوړ شوی دی. د افغانستان بانک د اسعارو بیو د جدول له مخې، یو امریکایي ډالر د کابل په بازارونو کې په ۶۷ افغانۍ بدلیږي. د افغانستان بانک مسوولینو تر دې مخکې ویلي، چې د مناسبو پولي سیاستونو په عملي کولو سره توانېدلي، د افغانیو ارزښت وساتي او د اسعارو په بازار کې د ناخاپي بدلونو مخه ونیسي.

## کار ســـاخت بخش نهایی فاز چهارم راه آهن هرات-خواف آغاز شد



کار ســاخت بخش نهایی فاز چهـارم راه آهن هرات-خواف به درازای ۴۷ کیلومتر آغاز شــده است که ایران را به شــهرک صنعتــی و میدان هوایــی هرات وصل خواهد کرد. هزینه ســاخت بخش آخر راه آهن هرات-خــواف ۵۴ میلیون دالر اســت که از ســوی حکومت افغانستان تامین می شود. محمد اسحاق صاحب زاده معیــن بخش راه آهن وزارت فوایــد عامه گفت: «این پیمان بــه ارزش ۵۴ میلیون دالــر از بودجه داخلی حکومت افغانســتان انجام شده است. خبر خوش این اســت که یک پروژه ملی و اقتصادی از بودجه داخلی افغانستان تطبیق می شود.» کار ساخت بخش چهارم راه آهن هرات- خواف از سوی شرکت های افغانی و روســی به گونه مشترک پیش برده می‌شود. قرار است یک ایســتگاه بزرگ و معیاری نیــز در انتهای این راه آهن در نزدیک شــهرک صنعتی هرات ســاخته شود. احمد شکیب ســامیزی مسوول شرکت پیمان‌کار گفت: «در روسازی‌های ریلی ما تلاش داریم که از همکاران روســی خود نیز کمک دریافت کنیم تــا با کیفیت بهتر بتوانیم این خط را آماده و به بهره‌برداری بسپاریم.» راه آهن هرات- خواف در فراهم ســاختن تســهیلات در زمینــه صــادرات و واردات و کاهــش بهــای انتقال کالاهــای بازرگانی مهم گفته می‌شــود. محمد ناصر امین رییس اتاق صنایــع و معادن هرات گفت: «یک تن بار را اگر ما خواســته باشــیم از بندرعباس با موتر بیاوریم، از صد تا یک صدوپنجاه دالر هزینه بر می‌دارد امــا از راه آهن هزینه آن تا پنجاه دالر می‌رســد.» راه آهن هرات- خواف چهار بخش دارد که دو بخش آن در ایران و یک بخش آن در افغانســتان بــه بهره‌برداری رســیده اســت. بخش چهارم این راه آهن به درازای بیــشتر از ۹۰ کیلومتر، به دو بخش کوچک‌تر تقســیم شــده که کار ســاخت بخش نخســت آن بیشتر از ۹۰ درصد پیش رفته است.

## کاهش ۴۵ میلیـــــون دالری تجارت افغانستان و ترکیه در هفت ماه



ارزش دادوستد تجاری میان افغانستان و ترکیه در هفت ماه نخست ســال جاری میلادی ۴۵ میلیون دالر کاهش یافته است. براساس آمارهای وزارت صنعت و تجارت، کابل و انقره در سال جاری ۷۳ میلیون دالر تجارت داشته‌اند، در حالی‌که این رقم در مدت مشابه سال گذشته به ۱۱۸ میلیون دالر می رسید. آخندزاده عبدالسلام جواد، سخنگوی وزارت صنعت و تجارت، گفت: «صادرات و واردات افغانســتان با ترکیه در جریان هفت ماه سال ۲۰۲۵ به ارزش ۷۳ میلیون دالر بوده که از این میان ۲۱ میلیون دالر صادرات و ۵۲ میلیون دالر واردات است. اکثر اقلام عمده صادراتی افغانستان به ترکیه عبارت اند از: مغز بادام، قالین، کشمش، زیره سبز و نباتات طبی می باشــد. اقلام عمــده وارداتی ادویه، قالین، لــوازم اطفال، بخاری، شــامپو و مواد خام فابریکات بوده اســت.» برخی آگاهان و تاجران می‌گویند ظرفیت‌های فراوانی برای گسترش روابط تجاری میان کابل و انقره وجود دارد و در صورت فراهم شدن زمینه‌های بهتر ترانزیتی، صدور ویزا و تسهیلات بانکی میان دو کشور، حجم تجارت با ترکیه می‌تواند افزایش یابد. تجار امید حیدری گفت: «نیاز است که رهبری سفارت ترکیه در افغانســتان و رهبری سفارت افغانســتان در ترکیه روی مواردی کار کنند که نیازهای هردو کشور را در نظر بگیرند.» به دلیل موقعیت جغرافیایی افغانســتان، بخــش عمده‌ای از مبادلات تجاری میان کابل و انقره از طریق کشورهایی چون ایران، پاکســتان و جمهوریت های آسیای میانه انجام می شــود. با این حال، ترکیه سرمایه‌گذاری محدودی در بخش های انرژی و معادن افغانستان داشته است.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه

هفته‌نامه آبادی




# ارزش اقتصادی پروژهٔ ساحات گازی طوطی میدان

نجیب الله مایار

## مقدمه

افغانستان منابع سرشار گاز طبیعی دارد که بسیاری از آن‌ها تاکنون استخراج نشده‌اند، در حالی که گاز مورد نیاز خود را از کشورهای همسایه و منطقه وارد می‌کند. امارت اسلامی در چهار سال گذشته با در نظر داشت این نیاز مردم، قراردادهای متعدد برای کشف و استخراج منابع طبیعی، به شمول گاز، با سکتور خصوصی امضا کرده است تا از یک سو این نیاز جدی مردم در داخل کشور رفع گردد و از سوی دیگر با آغاز عملی استخراج این منابع و معادن ، برای هزاران تن زمینهٔ کار فراهم شود و گاز اضافی به بیرون صادر گردد. ساحهٔ گازی طوطی‌میدان در شمال افغانستان یک پروژهٔ مهم است که قرارداد آن سال گذشته امضا شده بود و در روزهای اخیر کارهای اکتشاف و استخراج آن به گونهٔ عملی آغاز شد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، در مراسم آغاز کار عملی پروژه طوطی میدان آن را در شگوفایی اقتصادی کشور مهم خواند. در این نوشته به‌طور خلاصه به ارزش اقتصادی ساحهٔ گازی طوطی‌میدان اشاره می‌گردد:

## آغاز کار عملی اکتشاف و استخراج ساحات گازی طوطی‌میدان

کار پروژهٔ اکتشاف و استخراج ساحات گازی طوطی‌میدان به تاریخ ۲۳ سنبلهٔ سال جاری خورشیدی آغاز شد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، که در مراسمی آغاز این پروژه حضور یافته بود، شروع کارهای عملی این ساحات گازی را گامی مهم در بخش سرمایه‌گذاری در کشور خواند و افزود که سرمایه‌گذاری در چنین پروژه‌های بزرگ و بااهمیت، پیام روشنی به همهٔ کشورها و سرمایه‌گذاران می‌دهد مبنی بر اینکه در افغانستان امنیت تأمین گردیده و برای هر نوع سرمایه گذاری زمینهٔ مساعد است. به گفتهٔ محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، امارت اسلامی افغانستان مطابق به سیاست اقتصاد محور خویش، با فراهم نمودن سهولت‌های ممکن، از همهٔ سرمایه‌گذاران بالقوه استقبال و حمایت می کند. او گفت که با آغاز این پروژه، برای شمار زیادی از هموطنان کشور فرصت‌های کاری ایجاد می‌شود، نیاز داخلی به گاز تا حد زیادی برطرف می‌گردد، وابستگی کشور به گاز و برق وارداتی کاهش می‌یابد و به‌صورت تدریجی زمینهٔ صدور گاز به بیرون فراهم خواهد شد. وی علاوه کرد که در نتیجهٔ این پروژه، توازن تجارت تا حدی برقرار شده و در مجموع نقش مهمی در رشد اقتصادی کشور ایفا خواهد کرد. ذخایر گازی طوطی‌میدان سال‌ها پیش از سوی خارجیان شناسایی شده بود، اما به‌دلیل اشغال، جنگ‌های پی‌هم و ناامنی‌ها، کار عملی اکتشاف و استخراج آن آغاز نشده بود. قرارداد این پروژه سال گذشته به تاریخ ۱۹ میزان در حضور داشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، میان ملا هدایت‌الله بدری، وزیر معادن و پترولیم امارت اسلامی افغانستان، و یک شرکت ازبیکستانی به امضاء رسیده بود.

## ارزش اقتصادی پروژهٔ گازی طوطی میدان

افغانستان دارای معادن غنی و ذخایر گسترده طبیعی زیرزمینی است. گاز یکی از این ذخایر می‌باشد که در مناطق مختلف کشور کشف شده و ذخیره مجموعی آن بین ۱۰۰ تا ۵۰۰ میلیارد متر مکعب تخمین شده است. با به قدرت رسیدن امارت اسلامی و تأمین امنیت سرتاسری در کشور، فرصت بی‌سابقه برای استفاده از معادن مختلف و منابع طبیعی زیرزمینی، از جمله گاز طوطی میدان، فراهم گردید. با استفاده از همین فرصت، قرارداد اکتشاف و استخراج گاز طوطی میدان بر اساس اصول سرمایه‌گذاری خارجی با یک شرکت ازبیکستانی به امضاء رسید. این قرارداد ده ساله است که مدت کلی آن به ۲۵ سال می‌رسد. طبق قرارداد، شرکت قراردادی در سال اول صد میلیون دالر و در جریان ده سال یک میلیارد دالر سرمایه‌گذاری خواهد کرد. همچنان، در دو سال اول، کارخانه تولیدی برق گازی به ظرفیت ۱۰۰ میگاوات احداث خواهد شد. این شرکت در سه سال اول، ۱۵۰۰ کیلومتر مربع ساحه را به صورت دو بعدی و ۱۰۰۰ کیلومتر مربع ساحه دیگر را به صورت سه بعدی سروی خواهد کرد. ذخایر گاز طوطی میدان در ولایت فاریاب و جوزجان موقعیت دارد که مساحت مجموعی آن به حدود ۷۰۰۰ کیلومتر مربع می‌رسد و ذخایر گاز این منطقه حدود ۳۰ میلیارد متر مکعب تخمین گردیده که با آغاز استخراج، بخش بزرگی از نیازمندی‌های مردم به گاز در داخل کشور تأمین خواهد شد. افغانستان در حال حاضر گاز مورد نیاز خود را از ترکمنستان، ایران، قرغیزستان، روسیه و تاجکستان وارد می‌کند که میزان واردات سالانه آن به صدها میلیون دالر می رسد. با آغاز اکتشاف و استخراج این ذخایر، نه تنها از خروج سرمایه کشور به بیرون جلوگیری می‌شود، بلکه در عوض، یک میلیارد دالر سرمایه‌گذاری خارجی به کشور جذب خواهد شد. این سرمایه‌گذاری تکنالوژی پیشرفته را وارد افغانستان خواهد کرد، به افغان‌ها تجربه لازم در زمینه اکتشاف و استخراج گاز خواهد بخشید و توانمندی مدیریت و کنترول این سکتور مهم را در آینده به افغان‌ها خواهد سپرد. جذب



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

هفته نامه آبادی

سرمایه‌گذاری خارجی در چنین مقیاس بزرگ، سرمایه‌گذاران دیگر را نیز تشویق خواهد کرد تا در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند و از فرصت‌های به‌وجودآمده به‌گونه سالم استفاده نمایند. بزرگ ترین مزیت این سرمایه‌گذاری خارجی تقویت اعتماد اقتصادی افغانستان در سطح منطقه است .با این سرمایه‌گذاری، پروژه‌های توسعه‌ای در ولایت فاریاب و جوزجان آغاز خواهد شد؛ جاده‌های منتهی به ذخایر گاز اعمار می‌گردد، برای استخراج و پروسس گاز، تصفیه‌خانه‌ها، لابراتوارها و ذخایر بزرگ ساخته می‌شود. در آن‌جا بازار بزرگ خرید و فروش گاز ایجاد خواهد شد که ولایات مذکور را به یک مکان تجارتی مبدل خواهد ساخت. با آغاز استخراج گاز طوطی میدان، بازار گاز افغانستان که تا اکنون بر واردات استوار بود، به ثبات خواهد رسید. ثبات در بازار، به طور کلی بر تجارت تأثیر مثبت می‌گذارد و این امر می‌تواند به رشد اقتصادی کشور کمک کند. شرکت قراردادی علاوه بر اکتشاف و استخراج گاز، در همان ولایت یک فابریکه تولید برق گازی با ظرفیت ۱۰۰ میگاوات احداث خواهد کرد. ایجاد این فابریکه، یک گام مهم در ولایت نسبتاً عقب مانده فاریاب است. با تولید برق، صنعت رشد خواهد کرد، پارک های صنعتی ایجاد خواهد شد و سرمایه‌گذاری گسترده جذب می‌گردد. با ایجاد فابریکه برق، بسیاری از مناطق ولایت فاریاب که تا اکنون از نعمت برق محروم بودند، صاحب برق خواهند شد. ادارات دولتی، مراکز تعلیمی و تحصیلی و بخصوص شفاخانه‌ها در مرکز و ولسوالی‌های فاریاب از برق دایمی مستفید خواهند شد که در نتیجه خدمات بهتر و به موقع به مردم ارائه خواهد شد. با آغاز اکتشاف و استخراج گاز طوطی میدان از سوی شرکت ازبیکستانی، به صورت مستقیم و غیرمستقیم برای هزاران نفر زمینه کار فراهم خواهد شد و این امر تأثیر مثبت بر سطح زندگی مردم خواهد گذاشت.

## نتیجه گیری

آغاز کار اکتشاف و استخراج گاز طوطی میدان یک گام مهم در راستای رشد و تقویت سکتور انرژی دانسته می شود که بر اساس آن افغانستان در یک بخش مهم به خودکفایی نزدیک خواهد شد. با این اقدام، نیازمندی‌های کشور به گاز با قیمت مناسب مرفوع می‌گردد و برای هزاران تن در داخل کشور زمینه کار فراهم خواهد شد. پروژۀ طوطی‌میدان پتانسیل بسیار خوب در تأمین برق محلی و کاهش واردات انرژی برق تا جذب سرمایه‌گذاری خارجی، ایجاد کار و در دراز مدت امکان صادرات گاز را دارد. بر این ذخایر گازی یک میلیارد دالر سرمایه‌گذاری می‌شود که علاوه بر انتقال تکنالوژی پیشرفته، در جلب سرمایه‌گذاری بیشتر خارجی نیز نقش مهم خواهد داشت. همچنان با احداث فابریکۀ ۱۰۰ میگاوات برق گازی در این منطقه، صنعت در ولایت فاریاب و جوزجان رشد خواهد کرد و فعالیت‌های تجارتی رونق خواهد یافت. باشندگان این منطقه به برق دایمی دسترسی پیدا خواهند کرد و در کنار آن، پروژه‌های توسعه‌ای در برخی عرصه‌ها نیز عملی خواهد شد. پروژه طوطی‌میدان می‌تواند به ماشین رشد اقتصادی منطقه و یکی از منابع پایدار عواید ملی تبدیل شود.

## د بهرنیو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۶۷,۱۰؋ | ۶۷,۱۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۲۹؋ | ۲۲۹؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۶۶؋ | ۰,۶۷؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۹,۲۲؋ | ۷۹,۲۸؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۱؋ | ۰,۸۱؋ |
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۷۶۲؋ | ۷۶۳؋ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ۹۱,۵۲؋ | ۹۱,۵۹؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷,۸۹؋ | ۱۷,۹۰؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۲۷؋ | ۱۸,۲۸؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۴۳؋ | ۹,۴۳؋ |

